(١)

## په اوسني زمانه کې د امنیت ورکولو تړون او د عهد مفهوم

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکې دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: « وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْؤُولاً» ژباړه:« د ژمني پابند اوسئ، دا یقیني ده چې د ژمني په اړه به تاسي وپوښتل شئ. »، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی،چې پخپل حدیث کې فرمایلي: بی شکه غوره بندګان د الله په نزد هغه بندګان دي چې پخپلو وعدو وفا کوي او د خو اخلاقو خاوندان دي، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

و بعد:

په واقعیت کې اسلام د امنیت، سولي، نیکۍ او د احسان دین دی، بی له شکه په وعدي وفا کول د لویو اخلاقی او انساني ارزښتونو د جملی څخه دی، چې د هغي په واسطه اعتماد رامنځته کیږي او سوله او امنیت د وګړو او ملتونو ترمنځ تحقیق پیدا کوي، او د هغي په ذریعه د همکاری، دوستی او پرمختګ ساتني د ټولني د وګړو ترمنځ پیاوړي کیږي، نو ددی پراساس په وعده باندي وفا کول د ایمان د برخو او د صداقت او نیکیو د دلایلو څخه شمیرل کیږي، ځکه هغه یو لوي الهي ادب او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د اخلاقو او د اسلامي ارزښتونو طریقه ده.

په ریښتیا سره اسلام خپلو پیروانو ته امر کړي چې خپل اخلاق په وعدي د وفا کولو په ګانه سینګار کړي، او پدغه موضوع یې په ډیر جدي ډول تأکید کړی دی لکه چې الله تعالی فرمایي:« وَأَوْفُواْ بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْؤُولاً»ژباړه:« د ژمني پابند اوسئ، دا یقیني ده چې د ژمني په اړه به تاسي وپوښتل شئ.»او په بل ایت کې فرمایلي:« وَأَوْفُواْ بِعَهْدِ اللّهِ إِذَا

عَاهَدتُّمْ وَلاَ تَنقُضُواْ الأَيْمَانَ بَعْدَ تَوْكِيدِهَا وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللّهَ عَلَيْكُمْ كَفِيلاً إِنَّ اللّهَ يَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ»ژباړه:« د الله ژمنه پوره کړئ، چي کله تاسي له هغه سره کومه ژمنه کړي وي؛ او خپل قسمونه له اخيستلو څخه وروسته مه ماتوئ چي کله تاسي الله پر خپل ځان باندي شاهد نيولی وي. بېشکه الله ستاسي له ټولو عملونو څخه باخبر دی.»، يعنی هرهغه عهد او وعده مو چې کړی په هغي پابند او ټينک پاتی شی، برابره خبره ده چې دا پيمان تاسو او د ستاسو د رب ترمنځ وي او يا هم ستاسو او د خلکو ترمنځ وي، کله چې تاسو يو ټينګ تړون وکړ نو هغه مه ماتوئ، پداسي حال کې چې تاسو الله تعالی خپل ضامن او کفالت کوونکي ګرځولی، نو هرکله چې يو کس يو تړون سرته رسوي نو بايد هغه ته احترام وکړي، او هغه چا سره چې وعده کوي بايد پرهغه ولاړ ووسي.
لکه څرنګه چې الله تعالی خبر ورکوي چې د وفا اهل خلک چې پخپلو وعدو ولاړ دي هغوي د الله تعالی د ميني اهل دي او د صداقت او تقوی اهل د مخلوفاتو په نزد دي، الله تعالی فرمايي:« بَلَى مَنْ أَوْفَى بِعَهْدِهِ وَاتَّقَى فَإِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ»ژباړه:« ښه نو، ولي به له هغو څخه پوښتنه ونشي؟ هر څوك چي خپل تعهد پوره کړي او له بدو چارو په ډډه شي، هغه به الله ته ګران وي، ځکه چي پرهيزګاران د الله خوښيږي.» او په بل ځاي کي الله تعالی فرمايي:« وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُواْ وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاء والضَّرَّاء وَحِينَ الْبَأْسِ أُولَـئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَـئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ»ژباړه:« او نېکان هغه کسان دي چي کله وعده وکړي تر سره يې کړي او د تنګسې او غمونو په وخت کښې او د حق او د باطل په جګړه کښي صبر وکړي، همدا رښتيني او همدا پرهېزګار خلك دي.»، الله جل جلاله دا بيانوي چې هغوي د لوي اجر او د جنت خاوندان دي، لکه چې فرمايي:« وَمَنْ أَوْفَى بِمَا عَاهَدَ عَلَيْهُ اللَّهَ فَسَيُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا»ژباړه:« او څوك چي پر هغي ژمني باندي ودريږي چي هغه له الله سره کړېده، الله به ډېر ژر هغه ته لوی ثواب ورکړي.»، بيا الله تعالی دا لوي اجر د خپل کتاب په بل ځاي

کې بیانوي:« وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ بِشَهَادَاتِهِمْ قَائِمُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ * أُولَئِكَ فِي جَنَّاتٍ مُكْرَمُونَ»ژباړه:« هغه کسان چي د خپلو امانتونو حفاظت او د خپلي ژمني لحاظ ساتي؛* هغه کسان چي پخپلو شاهدیو کښي په رښتینولۍ باندي ټینګ دریږي* او هغه کسان چي د خپل لمانځه ساتنه کوي؛* دغه کسان به په عزت سره د جنت په باغونو کښي اوسیږي.».
او نبي کریم صلی الله علیه وسلم هم په وعدي باندي وفا کولو ارزښت یي لوړ کړي او د وعده خلافی او وعدی ته د پروا نکولو نه یي خبرداری ورکړی،ځکه چې په خیانت او وعده خلافي کې د ټولنو فساد او بي اعتمادي د خلکو ترمنځ او د امانتونو ضایع کیدل رانغښتي دي، لکه څرنګه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: د منافق دری نښي دي: هر کله چې خبري کوي دروغ وایي، کله چې وعده وکړي وفا نکوي، او کله چې هغه ته امانت وسپارل شي په هغه کې خیانت کوي، او په بل حدیث کې فرمایي: مسلمانان پخپلو شرطونو او وعدو ولاړوي،مګر هغه شرط نه ماسواء چې هغه حلال حرام ګرځوي او حرام حلال.، او په بل حدیث کې د خیانت د جزاء نه خبرداری ورکوي: کله چې الله تعالی د قیامت په ورځ اولین او آخرین کسان حساب ته راټولوي، نو هر خاین او غدار ته یو بیرغ پورته کیږي او ویل کیږي: دا فلاني د فلاني خیانت کوونکي اولاد دی.، ابن کثیر رحمه الله وایي: پدي کې حکمت دا دی کله چې خیانت او غدر په پټه سره سرته رسیږي او هیڅوک پرهغه پوه نه وي نو د قیامت په ورځ دا خیانت یو لوړ بیرغ د خپل د صاحب د کړنو لپاره وي، او پداسی ډول سره هر هغه خیانت یي چې په دنیا کې د خلکو نه یي په پټه سرته رسولی په هغه ورځ کې ټول رابرخیره کیږي، او هغوي الله تعالي د ټولو مخلوقاتو په وړاندی رسوا کوي.
او د هغه وعدو د جملي څخه چې شریعت په هغه باندي د وفا امر او تأکید کړی او خبرداری یی ورکړي چې باید مات نشي او پري وفا وکړی شي

د امنیت عهد او وعده ده، او دا په اوسني عصری مفهوم سره یعني: هغه دی چې یو هیواد د بل هیواد وګړو ته ویزه یا ذاخلیدو اجازه خپل ملک ته ورکوی، برابره خبره ده که دا وګړي د یو سیلانی په حیث دی هیواد ته داخلیږي او یا د لیدونکی په حیث او یا هم پدی هیواد کې د اوسیدو لپاره د یو پیمان او بین االمللي تړون په ذریعه او یا هم د دیپلوماتیکو لارو له لاري او داسی نور، او یا هم د هغه تړون له لاري چې ددغه دوو هیوادونو ترمنځ په قانوني لارو مشخص شوي دی د هیواد ته وردننه کیږی، او کله چې دا شخص د ژوند کولو اجازه یا داخلیدو اجازه دغه هیواد ته لاسته راوړي نو ددی هیواد ټول حقوق او احترام ورته ثابتیږي، او هغه وعده چې دولت دي وګړي ته ورکړی ده نو په هر وګړي او اوسیدنکي دا لازمیږي، او هیڅوک د شریعت او د قانون د نظره دا حق نلري چې هغه نادیده ونیسي، او که ټول خلک پدي شخص کې دا ګوري چې خلاف کار سرته رسوي او یا ددی هیواد امنیت او سوله تر پوښتني لاندی راولي او یا هم د عمومي نظام خلاف کارکوي، نو دا خلک د مسئولو کسانو د خبرولو نه پرته بل کار نشي کولاي، ترڅو دولت وکولاي شي د قانون په رڼا کې دا متخلف شخص مجازات او محاسبه کړي، ځکه د ټولني وګړي بدون د مسئولیت نه ددغه شخص د مجازات او محاسبه کولو حق نلري، ځکه چې که چیرته داسی نه وي نو ټول امور به ګډوډ او بی نظمی به رامنځته شي.

بی له شکه وفا کول پدغه تړون یو لوی اوو شرعي، قانوني،ملي او انساني واجباتو څخه دی، نو کله چې زمونږ مقدس دین د امن تړون مقام لوړ کړی نو د مسلمانانو ذمه په هغه کې یوه ده، دا پدی معنا چې کله یو مسلمان یو چاته د امنیت وعده ورکوي نو دا وعده په ټولو مسلمانانو لازم او ضروري ده، نو څه فکر کوی کله چې دا وعده د تنظیم تقویت او د شریعت په ملاتړی او قانون پراساس په یو بین المللي تړون بدل شوی

وي؟ بی له شکه چې وفا کول پردی وعده بی له مخالفته ضروري او لازمي دی.
په ریښتیا سره اسلام د ساتنی او په وعدی باندی د وفا کولو دین دی، او هغه دین دی چې جعل، فریبکاري، او خیانت نه پیژني، ځکه دا نه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه ثابت شوي او نه د هغه د یارانو نه چا کې ثابت شوی چې په وعده یي وفا نه وی کړی، او یا خپل ورکړی عهد یی مات کړی وي ځکه الله تعالی خپل نبي ته په خطاب کې فرمايي:« وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِن قَوْمٍ خِيَانَةً فَانبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَى سَوَاء إِنَّ اللّهَ لاَ يُحِبُّ الخَائِنِينَ» ژباړه:« او که د کوم قوم له خیانت څخه ستا ویره وي، نو د هغه تړون په ښکاره ډول د هغه په وړاندي وغورځوه. دا یقیني ده چې الله خائنان نه خوښوي.»،او کله چې د حضرت معاویه ابن سفیان او د رومیانو په منځ کې تړون وو، نو امام معاویه رضي الله عنه وغوښتل چې د روم سرحدونو ته نږدی ولاړ شي، نو کله چې وخت ورسید او هغه د وتلو اراده وکړه، پدي وخت کې د پیغمبر د اصحابو نه ورته یو راغي او ورته یي وویل: الله اکبر الله اکبر باید تړون ته وفا وشي نه خیانت، نو هغو وکتل او ولیدل چې حضرت عمرو بن عبسه رضي الله عنه دی، نو امام معاویه یو شخص هغه ته راواستلو ترڅو پدی هکله د هغه پوښتنه وکړي، نو حضرت عمرو وویل: د پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه مي واوریدل چې ویل یي: څوک چې د یو قوم سره تړون ولري نباید خپل تړون ډیر سخت ونیسي او نه هغه مات کړي ترڅو ددغه تړون موده پاي ته ورسیږي او یا مقابل لوری تړون لمنځه یوسي، نو امام معاویه رضي الله عنه بیرته راوګرځیده، دغه موضوع د اسلام عظمت او لوی والي راښکاره کوي او دغه لوی والی الله تعالی خپل نبي ته په ډیرو لوړو صورتونو په یو امر کې بیانوي ځکه چې که یو څوک د پناه غوښتنه کوي باید پناه ورکړل شي، اګر که دا شخص مشرک هم وي، او یا هم یوځي کافر هم وي، ځکه چې الله تعالی فرمايي:« و َإِنْ أَحَدٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّى

يَسْمَعَ كَلَامَ اللهِ ثُمَّ أَبْلِغْهُ مَأْمَنَهُ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَا يَعْلَمُونَ»ژباړه:« او كه له مشركانو څخه كوم څوك په پناه غوښتلو تا ته راشي (تر څو چې د الله كلام واوري)، نو هغه ته پناه وركړه، تر دې پورې چې د الله كلام واوري. بيا هغه د هغه د امن تر ځايه ورسوه . دا ددې لپاره بايد وشي چې دوی علم نلري.».

په واقعيت سره نبي كريم صلی الله عليه وسلم دغه نيک ارزښت كله چې دټول بشريت د امنيت او سولي لامل ګرځي پخپل كردارو سره مستحكم او استواره كړی دی، لكه چې فرمايي: څوک چې امانتدار ندی ايمان نلري، او هغه څوک چې خپل عهد او تړون باندی وفا نكوي دين نلري.، او په بل حديث كې فرمايي: څوک چې يو تړون مات كړي د جنت بوي ورته نه رسيږي، دا پداسی حال كې چې د جنت بوي د څلويښت كلنو د فاصلي څخه محسوسيږي.، او همداسی فرمايي: واقعي مسلمان هغه دی چې نور د هغه د ژبي او لاس څخه په امان كې وي، او حقيقي مؤمن هغه دی چې د خلكو ويني، ځانونه او مالونه د هغه د لاس نه په امان كې وي.،او پيغمبر صلی الله عليه وسلم يوه غوره او عملی مثال مونږ ته د عهد او تړون ته په وفا كولو كې دی هغه كه د دښمنانو سره هم وي،ځكه د بدر د ورځي په هكله حذيفه بن اليمان رضی الله عنه فرمايي: هغه څه چې زمونږ د نه ګډون د بدر په غزوه كې شو هغه دا وو چې زه مې د خپل پلار سره يوځای په جنګ كې د ګډون لپاره راووتلو، خو د قريشو كفارو مونږ ونيولو او وی ويل: چې حتما تاسو محمد ته ځي، مونږ ورته وويل مونږ محمد ته نه ځو بلكي مونږ مدينی ته ځو، نو مونږ نه يي د خدای په نوم عهد او تړون واخيست ترڅو مونږ ببيرته مديني ته راوګرځو او د محمد صلی الله عليه وسلم سره يو ځاي د كفارو په وړاندي جګړه ونكړو نو نبي كريم صلی الله عليه وسلم ته راغلو او دا موضوع مو ورته بيانه كړه نو هغه وفرمايل: تاسو دواړه بيرته راوګرځي، مونږ هغه وعده چې

تاسو له هغو سره کړی وفا کوو او د الله نه مرسته او یاری غواړو ترڅو مونږ پرهغوي غالبه کړی.
نو پردی اساس مونږ پدی ټینګار کوو چې د هغه تړون او عهد ساتل چې یو هیواد یو شخص ته ورکوي ترڅو دغه هیواد ته دننه شي نو دا پرټولو واجب او لازمیږي، او پرمونږ واجب دی چې د هغه د ويني ځان، حیثیت، مال او خصوصیتونو د ساتلو لپاره یو له بل سره مرسته او همکار ووسو، او همداسی پرمونږ واجبه ده چې د هغه نه په نیکو او خه ډول سره استقبال او احترام وکړو، ترڅو هغه څه مونږ نه ووینې چې مونږ هغه سره مینه لرو چې هغه زمونږ د دین عظمت لوی والي او پخواني تمدن او د انسانیت ترقي په سم ډول سره درک کړي، ترڅو وکولاي شو په ذهنیت جوړولو کې مو ونډه اخیستي وی، چې غواړو زمونږ د دین، هیواد ، ټولنه او ملت اخلاق ټولو نړیوالو ته ورسوو، چې دا د متمدن او پرمختللي هیوادونو حال دی.

اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم
*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.
ډیرو درنو مسلمانانو ورونو:
اسلام د عدالت ، زغم او تحمل ، د ښه ګډ ژوند د اوسیدو دین دی، او مسلمان تل د امن او امان او سولي پخلا والی لامل په هر ځاي او هر وقت کې دی، برابره خبره ده که دا پخپل هیواد کې وي او یا د بل په هیواد کې، نو کله چې یو مسلمان بل هیواد ته سفر کوي، برابره خبره ده که اسلامي هیواد وي او که نه وي، نو هغه ویزه چې دا هیواد ورته

ورکوي د یو امنیتی عهد او تړون حیثیت لري چې هغه ته د نفس او ځان امنیت ورکوي همدا ویزه د دغه شخص لخوا ددغه هیواد د وګړو لپآره یو عهد او تړون دی، ترڅو هغوی د همدی ویزی په ذریعه چې دی کس ته یي ورکړي ده د هغه مال او ځان په امان کي وي، او دا ویزه دا شخص پدي اړ کوي ترڅو ددغه هیواد د قانون احترام وکړي او پابنده ووسي، او هغه وجایب چې پردی دي هغه په پوره امانتداري او صداقت سره سرته ورسوي، نو پردی شخص د بل چا مال په ناحقه اخیستلو سره حرام دي، او هداسی د هغوي په ناموس، حیثیت او خیانت کول په هر ډول سره چې وي پردی حرام دي ترڅو دا شخص یو غوره سفیر د خپل د دین، هیواد او د تمدن لپاره ووسي، څنګه چې دي هیواد ته وردننه کیږی نو الله سره دا تړون کوي چې کوم د امن عهد ورته ورکړل شوی دی پرهغه پابندی او وفا کوي تر څو د الله تعالی د دغه وینا تر مسئولیت لاندی رانشي:« وَالَّذِينَ يَنْقُضُونَ عَهْدَ اللَّهِ مِنْ بَعْدِ مِيثَاقِهِ وَيَقْطَعُونَ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَنْ يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ أُولَئِكَ لَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوءُ الدَّارِ»ژباړه:« پاتي شول هغه خلك چي د الله ژمنه له كلك تړون څخه وروسته ماتوي، او هغه اړيكي غوڅوي چي الله د هغو د پيوندولو حكم كړيدی، او په ځمکه کښي فساد خوروي؛ هغوی د لعنت وړ دي او د هغو لپاره په اخرت کښي ډېر بد استوګنځی دی.»، امام شافعي رحمه الله خپل الأم کتاب کې فرمايي: کله چې يو څوک يو غير مسلمان هيواد ته د امنيتی تړون او عهد په وسيله دننه کيږي نو دغه شخص ته صحيح او حلال ندي چې د هغو مال واخلي، برابره خبره ده چې دا مال کم وي او که ډير حتی که هغوي د مسلمانانو سره په جګړه کې هم وي، ځکه کله چې دا د هغوي لخوا نه په امنيت کې دي نو دده لخوا نه هغوي هم بايد په امن کې ووسي او پردی په هغه اندازه مال حلال دی چې ددوي لخوا پر مسلمانانو حلال دی او د هغه پرته حلال ندی.(د امام شافعی پدي وينا چې د خپل الام کتاب کې کړی بسنه کوو

ترڅو فقهي اړخونو ته ورداخل نشو چې کله نا کله د بعضو ترمنځ دی برخه کې اختلاف وي).
الله تعالی دی شاعر ته خیر ورکړی چې وايي:
وعده ته وفا کول د کریمو انسانانو اخلاق دی* او د وعده ماتول د پستو انسانانو کار دی.
او زما په نزد د ملګرتیا او د تړون نه پرته* بل هیڅ څیز د نیک اخلاقو څخه ندی.
یا الله! مونږ ته د ښو اخلاقو هدایت وکړي، ستا نه بغیر بل هیڅوک د ښه اخلاقو په لور هدایت کوونکي نشته، او بد اخلاق له مونږ نه لری کړی، چې بل هیڅوک بی له تانه مونږ نه بد اخلاق نشی لري کولای.